Pashto

# امپشیر ته
# ښه راغلاست

د بي سر پرست پناه غوښتونکو
ماشومان لپاره د معلوماتو لارښود

تالیف : لیسا کلیم
متخصص ښوونکی

د امپشیر د توکمیز لږه کیو و او
د مسافرو د لاسته راوړنی خدمات

په مي ۲۰۰۹کې تازه شوې

# محتویات

| | |
|---|---|
| | مخ |
| ښه راغلاست | ۴ |
| معرفی | ۵ |
| د پناه غوښتنی درخواست | ۵-۸ |
| د پناه غوښتنی پروسه | ۹-۱۴ |
| ستاسو حقوق | ۱۴ |
| د اوسیدلو ځای | ١٤- ۱۷ |
| روغتیایی پاملرنه | ۱۷- ۱۸ |
| ښوونه او روزنه | ۱۸ -۲۵ |
| په انګستان کی کار کول | ۲۵ – ۲۷ |
| سپورت او تفریحی آسانتیاوی | ۲۷ – ۲۸ |
| د کورنی او ملګرو سره اړیکی | ۲۸-۲۹ |
| UASC له ایتوپیا نه ستاسو خاطري | ۳۰ – ۳۲ |
| ګتوری تماسونه | ۳۲ - ۴۰ |
| ستاسو رد عمل | ۴۱ – ۴۲ |

**ښه راغلاست**

امپشير د پيړو را پد يخوا د نړي د ټولو خلکو لپاره د ښه راغلاست ځای دي. ځکه چی تاسو امپشير ته راغلی یاست او خپلی کورنی او ملګری مو په هغه هیواد کی چی تاسو پکی را لوی شوی یاست شاته پریښودلی دی.

موږ هیله مند یوو چی دلته په امپشير کی به هر څوک وکولای شی چی ستاسو مرسته وکړی ترڅو خپل نوی ژوند پیل کړی او له بلی خوا به تاسو ددی هیواد په راتلونکي کی پوره ونډه واخلی. دا کتابچه ستاسو د مرسته او لارښودنی یو حصه ده. که چیرته دا معلومات تاسو ته ګټور ثابت شوی وی او که چیری تاسو هغه کسانو لپاره چی ستاسو نه ورسته به دا معلومات لولی کوم نظریات لری نو مهربانی وکړی او له خپل ټولنیز لارښود اویا له خپل ښوونکی سره تماس وونیسی.



جان کوفلان

د ماشومانو د خدماتو دایرکتر

## تعرف

که چیری ستاسو عمر له ۱۸ کالو نه کم دی او تاسو انګستان ته د بي سرپرسته ماشوم په حیث ارغلی یاست او غواړی چی دلته د پناه غوښتنه وکړی نو تاسو به د بي سرپرسته پناه غوښتونکی ماشوم an unaccompanied asylum seeking child (UASC) یا بي سرپرسته ماشوم په نامه ونومول شی. دا لارښود د داسی معلومات درلودنکی دی چی تاسو کولای شی د هغه په مرسته خپل نوی ژوند په برطانیه کی جوړ کړی

دا د لاندینو معلومات درلودونکی دي.

- د پناه غوښتنی پروسه
- ستاسو حقوق
- د اوسیدلو ځای
- تعلیم
- روغتیایی پاملرنه
- کار کول
- له کورنی او ملګرو سره اړیکی ، خصوصاً له هغه کسانو سره چی تاسو ترینه جلا شوی یاست
- هغه تجارب چی تاسو یی د اتیوپیا له UASC ځخه یی لری
- د هغه مراکزو یا سازمانونه چی له تاسو سره مرسته کولای شی د هغوی پوره معلومات

## د پناه غوښتنی درخواست

د بي سرپرسته ماشوم په حیثیت به تاسو کت مت د مشر کس په ځیر د پناه غوښتنی در خواست کوی. که چیری تاسو د ایرپورت ( هوائی



په دي کتاب کي هغه ځیزونه چي زما لپاره ګټور وۀ:

د کتاب د لا ګټور کولو په هکله وړاندیزونه:

که چیري نوري تبصري ولری:

ستاسو عمر:

ستاسو ملک:

ډګر ) کشتی له لاری او یا هم د واټرلو د ریلو وی ستیشن ( د اور ګادی ستیشن) له لاری انګستان ته راغلی یاست او د امیګریشن (مهاجرت ) له کوم افسر سره مو خبری کړی وی نو کیداشی چی تاسو دا درخواست په هم هغه وخت کی کړی وی . که چیرته په هغه وخت کی چی تاسو په لومړی سر کی انګستان ته راغلی یاست او د امیګریشن له کوم افسر سره مو خبری نه وی کړی نو کیداشی چی ددی وجه به دا وه
چې تاسی په غیر قانونی ډول انګستان ته راغلی یاست ، خو تاسی بیا هم کولای شی چی د کورنیو چارو وزارت د پناه غوښتنی د چاند د

یونټونو( د کورنیو چارو د وزارت یوه څانګه ده) څخه یی یوه ته دا درخواست وکړی. امپشیر ته تر ټولو په لند واټن کی واقع یونټ پته په لاندی دول ده:

Lunar House,
40, Wellesley Road,
Croydon.
CR9 2BY.
تیلفون: 0870 606 7766

که چیری تاسو دلته درخواست ورکړی نو تاسو به " د هیواد د ننه درخواست کونکی" په حیثیت وپیژندل شی.

دا ډیر ضروری دی چی ځان ته یو حقوقی مشاور(وکیل ) ونیسی . کیدایي شی تاسو واردمخه د خپل ټولنیز لارښود له لاری یو وکیل په دی کار ګمارلی وی ، که چیرته مو دا کار نه وی کړی نو تاسو کولای شی چی د ماشومانو د ریفوجی کونسل د هیات له لاری وکیل ونیسی :

رفیوجي قونصل،
Refugee Council,



## ستاسو د نظر غوښتنه

مونږ امید لرو چي ددي کتاب معلومات ستاسو په ګټه تمام شوي وي. که چيري تاسو مونږ ته ووایي چي ددي کتاب کومه برخه تر ټولو ګټوره وه او یا څرنګه کولاي شو چي دا کتاب د نورو بي سرپرستو اسایلم سیکرو لپاره نور هم ګټور کړو نو دا کار به زمونږ سره به مو ډیره زیاته مرسته کړي وي.

لطفاً خپله تبصره په راتلونکي پاڼه کي ولیکي (که چیري ضرورت وۀ نو د پاڼي په شا باندي هم ولیکی) او لاندي آدرس ته یي راولیږی:

Hampshire Ethnic Minority Achievement Service,
Aldworth Science College,
Western Way,
Basiongstoke.
RG22 6AH.

تاسو کولاي شي چي په هره ژبه کي لیکل وکړی.

مننه.

Children’s Advice and Support Service,
241-250 Ferndale Road,
London.
SW9 8BB.
تیلفون: 0207582 4947

دوی کولای شی چی د وکیل سره په تماس نیولو کی ستاسو مرسته وکړی کوم چی به د پناه غوښتلو په توله پروسه کی به ستاسو مرسته کوی. دا تولی حقوقی مشوری ستاسو لپاره په وړیا ( مجانی) ډول درکول کیږی.

نور سازمانونه هم شته چی د یو وار خدماتو یا په نامه یادیږی ،او کولای شی چی د پناه غوښتونکو لپاره وړیا معلومات او مشوری برابری کړی. دا مراکز د دولت له خوا په دی هدف جوړ شوی دی تر څو پناه غوښتونکو او ریفوجی کسانو ته د دوی د پناه غوښتنی د پروسي په اړه معلومات ورکړی. په امپشیر کی تاسی کولای شی چی د ریفوجی اکشن سره چی په Southampton اویا Portsmouth کی دي تماس ونیسی:

Refugee Action,
53, Derby Road,
Southampton.
SO14 0DJ.
Telephone: 02380 248 130

له10.00am – 12.00 am اوبیا 2.00 – 4.00pm پوری خلاص وی . دلته تاسی هیڅ کوم قسم اپائمنټ ته ضرورت نه لری.

Refugee Action,
Floor 3,
Venture Tower,
Fratton Road,



**د کورنی د غړو د پیدا کولو په ډګر کي مرسته**

د برطانيي د سره صليب ټولنه،
د نړيوالي ښيګڼي رياست،
د کورنيو د يوځاي کولو برخه،
British Red Cross Society,
International Welfare Department,
Family Reunion Section,
9 Grosvenor Crescent,
London.
SW1X 7EJ.

تیلفون: 020 7235 5454

د ونچستر سور صليب: د ځانګي مرکز،
Red Cross Winchester: Branch Headquarters,
Red Cross House,
Weeke,
Winchester.
SO22 5JD.

تیلفون:01962 865174 فکس: 01962 869721

X-perience Youth Centre,
Trinity Street,
Fareham.
PO16 7SJ.

تیلفون:  01329 824080

گل هروبن،
Gill Horrobin,
Children's Services,
Southside Offices,
Trafalgar House,
The Castle,
Winchester.
SO23 8UG.

تیلفون: 01962 847263

**که غواړي چي د خپل کلتور سره تړلي محلي اشخاص/ گروپونو سره تماس ونيسی**

د ايستلي په منطقه کي: د تولنيز پرمختگ افسر
راجني بالي Rajni Bali سره تماس ونيسي:
rajni.bali@eastleigh.gov.uk

د باسينگوستوک په منطقه کي: د باسينگوستوک Basingstoke د
تولنيز د پرمختگ افسر، د رنگين توب فورم:
islam.jalaita@basingstoke.gov.uk



Portsmouth.
PO1 5DL.   Telephone: 02392 297407

له9.30am – 1.00pm اوبيا2.00pm – 4.30pm  پوری خلاص وی . دلته تاسی بايد لومړی د اپائمنټ لپاره تيلفون وکړی.
.

ريفوجی اکشن کولای شی چي ستاسو لپاره ژباړونکی هم را پيدا کړی چی ستاسو په ژبه پوهی شی.

په Southampton کی يو بل مرکز هم شته کوم چی CLEAR په نوم ياديږی نوموړی سازمان  له دولت سره اړيکی نلری خو کولای شی چی پناه غوښتونکو او ريفوجی کسانو ته مشوري او معلومات ورکړی:

CLEAR,
George Williams House,
Cranbury Place,
Southampton.
SO14 0LG.

Telephone: 02380 221111

## د پناه غوښتنې پروسه

په تیر وختونو کې به د پناه غوښتلو د پروسې په بشپړیدو کله کله تر دریو کالو پورې لګیدل. د 2007 کال راهیسې د یوکې د سرحد اژانس ( دولتې اداره چې د مهاجرت لپاره مسؤل ده) یو نوې سسټم معرفي کړې دې کوم ته چې د کډوالتوب نوې نمونه (نیو اسایلم ماډل) ویل کیږي. ددې نوې سسټم مطابق د پناه غوښتلو لپاره ټول نوې درخواستونه به په 35 ورځو کې دننه او همدارنګ د اپیل درخواستونه به په 115 ورځو کې دننه فیصله کیږي. خو په دې اوسنې وخت کې فیصلې ددې نیټې نه زیات وخت اخلې. نو له دې کبله ستاسې د درخواست فیصله ددې لاندې ورکړې شوې ټاکلې وخت نه زیات وخت اخیستلې شي. که تاسې اړتیا لرې نو ستاسې سره به همیشه یو مشر بالغ کس، ژباړونکې او که ضرورت وې نو ستاسې وکیل هم موجود وې. د پناه غوښتنې لپاره 4 مهمې مرحلې دې:

### اوله مرحله: څرګندونه (سکرینڼګ)

دا په کرویډون کې د پناه غوښتنې د سکرینڼګ په یونټ کې یوه لنډه مرکه وې.
په دې کې به شامل وې:

- ستاسې د درخواست په باب به څه اساسې پوښتنې اوشې چې په دې کې به دا شامل وې چې تاسې یُوکی ته څرنګه داخل شوې یاست او ستاسو نوم څه او عمر مو څومره دې. که ستاسې سره داسې اسناد نه وې چې ستاسې عُمر ثابت کړې نُو په دغه صورت کې به په دې ځاې کې موجو ټولنیز کارګره ستاسې د عُمر تشخیص اوکړې. که ټولنیز کارګره په دې یقینې نه وې چې آیا تاسې د 18 کالو نه د کم عُمر یاست او کنه، نو په دغه صورت کې به تاسې (د عُمر په باب د بحث) د ماشوم په توګه په نظر کې نیول کیږي. ددې مطلب به داوې چې تاسې دا ادعا کوې چې د 18 کالو نه کم عُمر یاست خو ولې ستاسې سره ددې ثابتولو لپاره څه ثبوت نشته او ټولنیز کارګره دا نظر لرې چې تاسې ښایي د 18 کالو نه زیات یاست. ستاسې د سکرینڼګ نه ورستو په 25 ورځو کې دننه به ټولنیز پاملرنه کوونکې ستاسې د عُمر په باب فیصله اوکړې. تاسې حق لرې چې د عُمر د فیصلې خلاف اپیل وکړې که چیرې ددې سره موافقه نه یاست. که چیرې دا په تاسې تطبیق کیږي نو تاسې ته به اوویلې شي چې دا اپیل څنګه وکړې.
- ستاسې د ګوتو نښې لګول او ستاسې عکسونه اخیستل



په خپله راشی: له دوشنبي تر جمعي پوري، د سهار له 10 تر 12 بجو
مشورتي لاین: 020 7346 6760 ( له 10 تر 1 بجي، له 2 تر 4 بجو، له دوشنبي تر جمعي)

**که چیري تاسو د خپلي پاملرني په هکله او یا د بي سر پرسته اسایلم سیکر ماشوم یا ځوان په حیث کوم بل سوال لري**

د لاندي اشخاص د جملي څخه د هغه سره تماس ونیسي چي تاسوته تر ټولو نږدي موقعیت ولري.

ستیفن هندفورت،
Stephen Handforth,
Clarendon House,
Romsey Road,
Winchester.
SO22 5PW
تیلفون: 01962 869611

دینس روچ،
Denise Roch,
Alton Family Centre,
Mill Lane,
Alton.
GU34 2SX

تیلفون: 01420 546829

شارون نارت،
Sharon North,

د ځوانانو مستقیم مشورتي خدمات
Connexions Direct Youth Advisory Service
عمومي پوښتني: 08080013219

www.hampshireconnexions.co.uk
<https://owa.hants.gov.uk/exchweb/bin/redir.asp?URL=http://www.hampshireconnexions.co.uk>

**تعلیم ته د ادامه ورکولو په ډګر کي د مرستي په هکله مشوره**

د مهاجرینو تعلیمي او تربیوي مشورتي خدمات (RETAS)
Refugees Education and Training Advisory Service (RETAS)
د نړیوال پوهنتون خدمات (برطانیه)
World University Service (UK),
14 Dufferin Street,
London.
EC1Y 8PD.

تیلفون: 020 7426 5800
Advice Line: 020 7426 5801 (Tuesdays and Thursdays,
مشورتي لاین: 020 7426 5801 ( د سه شنبي او پنج شنبي په ورځو،
د ماسپښین 5:00 – 2.30 بجو)
د مهاجرین قونصل، د ترینګ او استخدام برخه،
Refugee Council, Training & Employment Section,
240 250 Ferndale Road,
London.
SW9 8BB.

تیلفون: 020 7346 6700



دا به د یو داسي زمه وار مشر بالغ کس په مخ کي کیږي  ګوم چي دمهاجرت د اداري لپاره کار نه کوي. دا ستاسي ټولنیز کارګره یا وکیل کیدي شي.

- تاسي له به یوه پوښتنلیک درکړي شي کوم ته چي د ثبوت د بیانبي فورمه (ایس اي ایف) ویل کیږي. ستاسي وکیل به دا فورمه ستاسو لپاره ډکه کړي او واپس به یي کړي. دا کار باید په 20 ورځو کي دننه ترسره کړي شي.
- د یوکی د سرحد اژانس به تاسو له د درخواست د ثبت کارډ (ای آر سی) درکړي کوم چي دا تاییدوي چي  ستاسو غوښتن لیک ورکړي شوي دي. دا به په دي ډول ښکاري:



د کارت مخ



د کارت شا

ستاسو د سکرینګ مرکي څخه لږه موده ورسته ( په یو څو ورځو کي) تاسي له به ستاسي د کیس یو ښتن درکړي شي. دا کس د یوکی د سرحد د اژانس لپاره کار کوي. دوی به ستاسي د غوښتنلیک د ټولو مرحلو ترسره کولو لپاره ذمه واره وي. تاسي دا حق لري چي د کیس لپاره  د نارینه یا ښځینه ښتن غوښتنه وکړي.

**د تيلفون په ذريعه مرسته – داسي څوک چي خبري ورسره وکړى.**

د ماشومانو لپاره: تيلفون: 1111 0800 (مفت)
ويب پاڼه: www.childline.org.uk
د لويو ماشومانو لپاره: تيلفون: 3300 7730 020

**د کلتورنو په هلکه مرسته**
کراس کلچرل کونسلنګ،
Cross cultural counselling,
د همپشاير د لږکيو توکمونو خدمات،
Hampshire Ethnic Minority Achievement Service,
Aldworth Science College,
Western Way,
Basingstoke.
RG22 6AH.
تيلفون:01256 330195

**د مکتب د مسايلو په هلکه مرسته**

د همپشاير د لږکيو توکمونو خدمات،
Hampshire Ethnic Minority Achievement Service,
Aldworth Science College,
Western Way,
Basingstoke.
RG22 6AH.
تيلفون:01256 330195

**ځوانانو لپاره د کرئير (مسلک) او نورو مسائلو په هکله مشوري**



**دوهمه مرحله: لومړۍ مرکه / د راپور ورکولو لمړۍ پيښه**

دا به لومړۍ ځل وي چي تاسي به د خپل کيس د څښتن سره وګورئ. دا ليده به ستاسي د سکرينګ مرکي څخه يو څو ورځې ورستو کيږي. په دې موقعه به ستاسي د کيس څښتن :

- تاسي ته ستاسو د پناه د اخيستلو د پروسي تفصيلات بيان کړي.
- تاسي له به ستاسو د مُهمي مرکي نيټه درکړي ( درهمه مرحله اوګوري)
- که تاسي تراوسه پوري وکيل نه لري، نُو ستاسي سره به مرسته اوکړي چي ستاسي لپاره وکيل ومومي.

**دريمه مرحله: د پناه غوښتني مرکه**

د پناه غوښتني مرکه به ستاسي د لومړۍ مرکي څخه تقريباً يوه اوونى ورستو کيږي.
په دې مرکه کي به ستاسي څخه پښتنه کيږي چي په يوکي کي د پناه غوښتني د درخواست ورکولو وجوهات بيان وکړى. تاسو به د مرکي د يادداښتو نوټس هُم درکړي شي او ستاسي څخه به لاس ليک واخيستل شي چي تاسي دا ترلاسه کړي دي.

**څلورمه مرحله: فيصله**

تاسي به په دې باب فيصله ترلاسه کړي چي آيا د خپل لومړۍ عريضي ورکولو څخه ورستو په 35 ورځو کي دننه تاسي په پناه اخيستلو کي بريالي شوي. عموماً ستاسي د کيس څښتن به په خپله تاسي ته د فيصلي په باب ووايي.

ستاسي د کيس څښتن ستاسو د پناه غوښتلو د درخواست په اړه 4 ډوله فيصلى کولاى شي:

1. دوى کيداشي چي تاسو د ريفوجي په حيثيت قبول کړى . د دى معنا دا ده چي تاسو کولاى شي چي په انګلستان کي تر 5 کالو پوري پاتي شي ترځو چي تاسي د لږ نه لږ 17½ کلن شوي نه ياست. د کورنيو چارو وزارت به په دې 5 کالو کي ستاسي د کيس بيا کتنه اوکړي ترځو دا اوګوري چي

تاسي اوس هُم دپاتي کيدو لپاره قانوني وړ ياست. که چيري د 5 کالو د پوره کيدو نه پس هُم ستاسي حالات بدل شوي نه ياست، نو تاسي کولي شي چي د ناڅرګندوخته پوري د پاتي کيدو (آي ايل آر) لپاره درخواست ورکړي. دا په يوکی کي ستاسي د پاتي کيدو حق دي ترڅومره وخته پوري چي تاسي پاتي کيدل غواړي. دا بايد تاسي ضرور د 5 کالو د پوره کيدو نه **وړاندي** وکړي. دا اجازه عموماً ورکول کيږي.

2. دوی کيداشي چی ستاسو درخواست رد کړی خو بيا هُم تاسي له بشري تحفظ (ايچ پي) درکړي. دا ځکه چي تاسي د پناه اخيستني په معيار پوره نه ياست خو ولي که تاسي خپل اصلي هيواد ته بيرته ستون شي نو ستاسي دځوروني خطر موجود دي. که چيري تاسي له د بشري تحفظ له کبله اجازه درکړی شوه نو تاسي بيا په يوکی کي تر 5 کالو پوري پاتي کيدی شي ترڅو چي تاسي د لړ نه لړ 17½ کلن شوي نه ياست. د کورنيو چارو وزارت به په دي 5 کالو کي ستاسي د کيس بيا کتنه اوکړي ترڅو دا اوګوري چي تاسي اوس هُم دپاتي کيدو لپاره قانوني وړ ياست که چيري تاسي نه ياست، نو ددي پرځاي به تاسي له به په خپل اختيار د پاتي کيدو اجازه (ډي ايل) درکړي شي. که چيري د 5 کالو د پوره کيدو نه پس هُم ستاسي حالات بدل شوي نه ياست، نو تاسي کولي شي چي د ناڅرګندوخته پوري د پاتي کيدو (آي ايل آر) لپاره درخواست ورکړي. دا په يوکی کي ستاسي د پاتي کيدو حق دي ترڅومره وخته پوري چي تاسي پاتي کيدل غواړي. دا بايد تاسي ضرور د 5 کالو د پوره کيدو نه **وړاندي** وکړي. دا اجازه عموماً ورکول کيږي.

3. دوی کيداشي چی ستاسو درخواست رد کړی خو بيا هُم تاسي له به په خپل اختيار د پاتي کيدو اجازه (ډي ايل) درکړي. دا ځکه چي تاسي د پناه اخيستني په معيار پوره نه ياست خو ولي بيا هم که تاسي خپل هيواد بيرته ولاړشي نو د کورنيو چارو وزارت به ستاسي په هيواد کي ستاسي د حفاظت او ستاسي د پاملرني د انتظاماتو په باب انديښمن وي. دا اجازه د 3 کالو پوري ورکول کيږي يا ترڅو تاسي 17½ کلن شي. په دي کي چي هره طريقه لنډه وي. کله چي ستاسي په خپل اختيار د پاتي کيدو اجازه ختميدونکي ياست نو تاسي کولي شي چي د نوري نيتي او / يا د ناڅرګنده وخته پوري د پاتي کيدو درخواست وکړي.



جورج ويليم هاوس،
George Williams House,
Cranbury Place,
Southampton.
SO14 0LG.
تيلفون:02380 221111

رفيوجي کونسل،
Refugee Council,
د ماشومانو د ملاتړ او مشوري خدمات،
Children's Advice and Support Service,
241-250 Ferndale Road,
London.
SW9 8BB.
تيلفون:0207582 4947

## که چيري وغواړی چي خپل ملک ته ستانه شي نو د لاندي مراکزو نه مرسته وغواړی.

د مهاجرت نړيواله ټولنه (IOM)
The International Organisation for Migration (IOM)
26 Westminster Palace Gardens
Artillery Row
London SW1P 1RR
تيلفون: (020) 7233 0001
فکس:(020) 7233 3001
اي ميل:varp@iomlondon.org
ويب پاڼه: www.iomlondon.org

4. دوی کیداشی چی ستاسو د پناه غوښتنې درخواست رد کړی او تاسې له په خپل اختیار د پاتې کیدو اجازه در نه کړې ځکه چې هغوې په دې مطمین دې چې کله تاسې بیرته خپل هیواد ته ستون شې نو تاسې به هلته په خوندې یاست او ستاسې پاملرنه به کیږي.

که چیرې تاسې د هغې فیصلې نه خوشاله نه یاست کوم چې ستاسې د کیس څښتن کړې ده، نو تاسې حق لرې چې د پناه غوښتنې او مهاجرت محکمې ته اپیل وکړې. ستاسې د کیس څښتن به تاسې ته ووایاست چې تاسې څنګه اپیل کولې شې او چې څومره زر باید تاسې اپیل وکړې. ستاسې وکیل به په دې باب تاسې له مشوره درکړې چې آیا ستاسې سره د اپیل لپاره مُناسب وجوهات شته دې او کنه، او دا چې ستاسې د اپیل د کامیابیدو امکانات څومره دې. هغه به ستاسې لپار د اسنادو بشپړولو کار هم وکړې او دا به یقینې کړې چې دغه اسناد د پناه غوښتنې او مهاجرت محکمې ته په وخت ورسیږي. د اپیل د ختمیدو پورې به تاسې له په یُوکی کې د پاتې کیدو اجازه درکړې شې. دا تقریباً د 6 اونیو پورې وخت اخلې خو ولې ددغې نیټې نه زیات وخت هم اخیستلې شي.
که چیرې تاسې خپل اپیل وبایلو، نو تاسې به د یوکی نه ځې. کور ته د واپسې په باب تاسې د مهاجرت د نړیوال سازمان (آیی اُو ایم) څخه په دې ادرس مرسته ترلاسه کولې شې:

26 Westminster Palace Gardens
Artillery Row
London SW1P 1RR

تلیفون: (020) 7233 0001
فاکس: (020) 7233 3001

بریښنا لیک: varp@iomlondon.org

ویب سایټ: www.iomlondon.org

د مهاجرت نړیوال سازمان (آیی اُو ایم) یو خپلواک سازمان دې او د کورنیو چارو د وزارت برخه نه ده.



Water Street
Liverpool L2 OQN.

د تیلفون شمیره: 0151 237 5200

## د اسایلم د مسائلو په هکله عمومي وړیا (مفت) قانوني مشوره

رفیوجي اکشن،
Refugee Action,
53, Derby Road,
Southampton.
SO14 0DJ.
تیلفون:02380 248 130

رفیوجي اکشن،
Refugee Action,
دریم منزل،
Floor 3,
Venture Tower,
Fratton Road,
Portsmouth.
PO1 5DL.
تیلفون:02392 297407

کلیر،
CLEAR,

که چيري تاسي په رضاکارانه توګه د يوکی نه ولاړ نه شي نو د کورنيوچارو وزارت تاسي خپل هيواد ته بيرته ليږلي شي.

که چيري تاسي اپيل وګټلو نو تاسی له به د پناه اخستونکي په حيثيت د پاتي کيدو اجازه درکړي شي. تاسي په يوکی کي د 5 کالو پوري پاتي کيدي شي او بيا تاسي د آيي ايل آر لپاره درخواست ورکولي شي. تاسي له به سفري اسناد درکړي شي او تاسي هر يو هيواد ته سفر کول شي پرته له هغه هيواده ده کوم څخه چي تاسي پناه غوښتلي ده. ورسته بيا، تاسي د برتانوي تابعيت لپاره درخواست ورکولي شي. په دې باب نور معلومات تاسي په دې لانديني پته ترلاسه کولي شي:

UK Border Agency
3rd Floor
India Buildings
Water Street
Liverpool L2 OQN.

تليفون نمبر: 0151 237 5200

## ستاسو حقوق

ستاسو حقونه شتی. ترڅوچي ستاسو د پناه اخستو مرحله روانه وي او دهغي نه ورستو که چيري تاسو له پناه درکړلي شي نو تاسو به د لانديني اسانتياو بغير د څه قيمته مستحق يي .

- د اوسيدو له پاره يو خوندي ځاي او يو ذمه دار کس چي ستا سو خيال ساتي .
- خوراک ، کالي ، او هغه نور سامان کوم چي په عامه توګه د اوسيدلو د پاره ضروري وي ، د مثال په توګه د ښوونځی / پوهنځی سامان .



## مهمي رابطي

**هوم آفس IND/ د اسايلم د کيسونو پوري مربوط**

لونر هاوس،
Lunar House,
40, Wellesley Road,
Croydon.
CR9 2BY.
تيلفون:0870 606 7766

د اسايلم د همغاړي کولو يونټ
SEF(M) Asylum Co-ordination Unit,
P.O. Box 1234,
Croydon,
CR9 1ZX.

د اپيل د څيړلو مرکز
Appeals Processing Centre,
Lunar House,
40, Wellesley Road,
Croydon,
CR9 2BY

**د سيتيزن شپ په هکله معلومات ترلاسه کول**

UK Border Agency
دريم منزل،

Third floor
India Buildings

- طبې پاملرنه که چیرې تاسو یي ضرورت لرې . په دې کې ټولو نیشنل هیلته سروسز(این ایچ ایس) ته رسایی هم شامله ده . لکه ډاکټران ، شفاخانې ، د غاښونو او سترګو ډاکټران .
- په ځایي ښوونځی یا پوهنتون کې زد کړه .
- په ښوونځی کې مفت خوراک
- په پوهنتون کې زد کړه کول که چیرې تاسو د داخلیدو په هغه شرطونو پوره یي کوم چې د برتانوې زد کونکو لپاره هم دې ، (څه فیسونه به وې) .
- ستاسو حق چې په بیرطانیه کار اوکړې .

که چیرې تاسو د څه خدمت (سرویس) نه کوم چې تاسو له درکړې کیږي ، خوشاله نه یې نو ستاسو سره د شکایت کولو حق هم شته دې. د مثال په توګه که چیرې ستاسو د اوسیدو په ځایي کې څه مسله وې نو تاسو دا غوښتنه کولې شې چې ستاسو ځایی بدل کړاې شې .

## کور: د ا وسیدو د پاره خوندی ځاي

کله چې تاسو د پناه اخستو له پاره غوښتنه اوکړې ، نو هوم آفس به ستاسو په هکله معلومات لوکل سوشل کئیر ډیپارټمنټ ته ورکړې . دا د دولت هغه برخه ده کومه چې د هغه ماشومانو د پاملرنې ذمه واره ده چې د هغو د خیال ساتلو له پاره نور څوک نه وې .
سوشل کئیر ډیپارټمنټ به ستاسو د اوسیدو له پاره تاسو له یو خوندې ځاي اوګورې او د هر هغه نور شیانو انتظام به هم تاسو له اوکړې د کوم چې تاسو په بیرطانیه کې د اوسیدو د پاره اړتیا لرې. دوې به ستاسو د پاره یو خاص کارګر وټاکې چې دا به هغه کس وې چې د هغه سره تاسو د خپلې ورځنې پاملرنې په هکله هر قسمه خبرې اترې کولې شې . دې ته کله نا کله " پاملرنه کول " هم ویلې کیږې .



زه د خپل ساتونکي او د هغي د کورنۍ سره په ژوند کولو خوشحاله نه ؤم. دا زما په کلتور نه پوهیده او ماته یي اجازه نه راکوله چي د خپل دوست، کوم چي ما په لارۍ کي پيژندلي ؤو، سره ملاقات وکړم. بعداً د بشري حقوق د ماشومانو د ساتني يو كاركونكي زما ليدو ته راغي. هغه ماته زما د حقوقو په هکله نور معلومات راکړل، په خاص ډول هغه راته یي وویل چي زه حق لرم د خپل ساتونکي بدل او د خپلو ملګرو سره وګورم. هغه ماته د ساتونکي د په بدلون کي مرسته وکړه. ددي مطلب دا وۀ چي زه به نوي ښار او نوي مکتب ته ځم، مګر زه په خپل نوي ځاي خورا خوشحاله ؤم، سره لدي چي په نوي مکتب کي هم د نسل تعصب سره مخامخ شوم.

يو کال پس ما يو خط تر لاسه کړ چي زما د کيس رد کيدلو په هکله وۀ. ما فيصله وکړه چي زه به عريضه کوم. ما له دوه نورو وکيلانو سره خبري وکړي، په شمول د يوۀ ايتوپين وکيل چي زما د ملګري کيس هم ورسره وه. ما اپيل وګاټه او اوس حق لرم چي په برطانيه کي تر څو مي زړه وي و اوسيږم. زه اميد لرم چي يوه ورځ ايتوپيا ته د بيرته تللو قابليت پيدا کړم.

.

کيداې شې چې تاسو د فوسټر کئيرر (ساتونکي) سره ځاې کړاې شې . دا هغه کس وې کوم له چې همپشير د هغه ماشومانو د خيال ساتلوله پاره پيسې ورکوې د کومو چې د خيال ساتلو څوک نه وې . تاسو به د هغه د فاميل په حيث د هغه سره اوسيږې . ستاسو فوسټر کئيرر به تاسو له هر هغه څه درکوې د کوم چې تاسو ضرورت لرې ، لکه خوراک ، کالې ، د تشناب شيان ، د ښونځې / کالج سامان وغيره . دوې به تاسو له د ټرانسپورټ انتظام هم کوې کله چې تاسو د يو ځاي نه بل ځاي ته تله غواړې او يا به تاسو له په بس يا ټرين کې د تلو را تلو د پاره پيسې درکوې . دوې به تاسو له هفته يز الاونس هم درکوې او دا به هغه پيسې وې کوم چې تاسو د خپل خواهش سره سم مصرف کولې شې . که چيرې تاسو د څه داسې توکې ضرورت لريې کوم چې تاسو له نه دې درکړاې شوې نوتاسو له د هغې د فوسټر کئيرر نه د غوښتنې په هکله څه ډول ويره کول پکار نه دې . په اصل کې همپشير د دې شيانو د پاره پيسې ورکوې ، ستاسو فوسټر کئيرر پيسې نه ورکوې .
ستاسو فوسټر کئيرر له به ستاسو د تير حال په هکله څه معلومات ورکړلې شوې وې ، لکه دا چې تاسو د کوم ملک نه راغلى يي ، تاسو کومه ژبه وايي او ستاسو مذهب څه دى . دا د دې له پاره چې هغو دا يقينې کړې چې تاسو له هر هغه شې درکړې د کوم چې تاسو د خپل تيرحال د کلتور سره سم ضرورت لرې . د مثال په توګه کيداې شې چې تاسو څه خاص خوراک نه خوري ، په يو خاص ډول جوړ شوې کالو ته اړتيا لرې او يا د عبادت له پاره څه خاص ځايونو ته تلل غواړې . که چيرې داسې خاص څه وې چې تاسو يى اړتيا لري او تاسو له نه وې درکړاې شوې نو تاسو له پکار دې چې هغه وغواړې . سوشل کئير ډيپارټمنټ تر خپله حده ممکن کوښښ کوې چې ماشوم د هغه کورنيو سره ځاي کړې کوم چې يو شان کلتور لرې خو دا په همپشير کې د فوسټرکئيرر د بېل بېل کلتورونو د کمې په وجه هميش ممکنه نه ده .



زه ډير هيريدلي ؤم او نه پوهيدم چي څه روان دي. پوليسو زما سره ډير ښه سلوک وکړو، ماته يي اوبو او مړه راکړه، کمپله يي راکړه او اجازه راکړه چي اوله شپه د پوليسو په ماموريت کي ويده شم. دوی حتي زما پوښتنه وکړه چي څه قسم مړي غواړم - ما ورته وويل چي زه مسلمان يم او دوي داسي مړې راکړه چي حلاله وي.

په سهار کي، د يوۀ ژباړونکي په مرسته چي په تيلفون را سره وصل شوي وۀ، پوليسو يو څه پوښتني را څخه وکړي. بعداً، پوليسو يو اجتماعي کارکونکي او ژباړونکي راووستل چي زما سره مخامخ خبري وکړي. ما له هيري هيڅ پوښتنه هم و نکړه او نه پوهيدم چي زه کوم قسم حقوق لرم که نه. ترجمان ما ته وويل چي زه حقوق لرم خو د هغو حقوقو تفصيل يي را نکړ. ترجمان زما زړه را ډاډه کړ.

اجتماعي کارمند (سوشيل ورکر) ماته يو بيړني کور مهيا کړ. زه واړم چي د يوې انګليسي کورنۍ سره ژوند وکړم. زه د داخلي، غاښو، او سترګو ډاکټرانو معاينه کړم. زما ساتونکي کورنۍ ماته جامي او د ضرورت نور ځيزونه واخستل. ما نشواي کولاي چي د هغي نه د نورو ځيزونو د اخستلو په هکله غوښتنه وکړم ځکه چي ما فکر کاوه چي زما ساتونکي هر څه په خپلو پيسو اخلي، مګر بعداً پوه شوم چي دولت دي ته دا ټولي پيسي ورکوي. ما په نږدي مکتب کي درس شروع کړ او په مکتب کي موجود نسلي تعصب (ريسزم) زه حيرانه کړم.

زما اجمتاعي کارکونکي ( سوشيل ورکر) يو وکيل را ته پيدا کړ چي زما کيس پر مخ يوسي. هغه ماته د کيس د مراحلو په هکله تفصيلي معلومات راکړل. د اميګريش افسر زه د يوۀ ژباړونکي (ترجمان) په مرسته انترويو کړم. هغه يو څو فورمي ډکي کړي او راته يي وويل چي د کيس فيصله ډير زيات وخت ونيسي.

## د یوۀ ایتوپین USAC سرګذشت

زه له ایتوپیا (حبشي) څخه راغلي یم. زه ۱۶ کلن یم. زما مور د اریتریا او زما پلار ایتوپیا ده. زه د مور او پلار یوازي اولاد یم. کله چي زه ۵ کلن ؤوم زما مور بیرته اریتریا وشړل شوه، ځکه چي د ایتوپیا او اریتریا ترمنځ جګړه روانه وه. ما خپله مور بیا ونلیده. ما د خپل پلار او انا سره ژوند کاؤه.
کله چي زه ۸ کلن ؤوم زما پلار ورک شو. زما په خیال هغه د دولت لخوا ووژل شو ځکه چي زما پلار سیاسي شخص ؤه. نه تر اوسه نه پوهیږم چي پلار باندي مي څه وشو.

کله چي ۱۴ کلن ؤم انا مي هم وفات شوه. هیڅ څوک هم نه ؤه چي زما خیال یي ساتلي واي. پولیسو زما د پلار د سیاسي فعالیتونو په هکله زما څخه پوښتني وکړی، دوی زه وویرولم او زه یي د ۵ ورځي لپاره په بندي خاني کي وساتم.

ما له ځان سره فیصله وکړه چي په ایتوپیا کي پاتي کیدل به زما لپاره له خطره ډک وي، خصوصاً په داسي حال کي چي زه څوک نلرم. زما تره را ته وویل چي که چیري زه د خپلي انا کور وپلورم او پیسي ده ته ورکړم نو دی به ما انګلیند ته ولیږي. زه ډیر وډار شوم خو بیا مي وویل چي زه نوره بله چاره نلرم. زه راضي شوم.
ما فرانسي ته په جعلي پاسپورت سفر وکړ. بیا سره له نورو اسایلم سیکرو زه د چینل تونل له لارې په ټرک کي انګلنډ ته راغلم. ټرک په ونچستر کي تم شو او مونږ ټول باهر را ووتلو. د ټرک (لارۍ) چلونکي د موټر د شا دروازه خلاصه کړه او مونږ یي ولیدو او پولیسو ته یي خبر وکړه. زه د پولیسو ماموریت ته یوړل شوم.



که چیرې تاسو په څه وجه د خپل اوسیدو په ځاي کي خوشاله نه یې نو د ټولونه مخکي تاسو د خپل فوسټر کئیرر سره خبره اوکړې . او که چیرې بیا هم مسله وې نو د خپل خاص کارګر سره خبره اوکړې . که چیرې تاسو په په رښتیانې ډول خوشاله نه یې نو ستاسو سره دا حق شتی چې د بل فامیل سره فوسټر کئیرر ته ځاې بدل کړې .

## طبې پاملرنه

تاسو د این ایچ ایس (نیشنل هیلته سروس) په واسطه د هر هغې طبې پاملرنې حق لرې کوم چې تاسو ته ضرورت وې . تاسو ته د دې له پاره دپېسو ورکولو ضرورت نشتې . این ایچ ایس په ببرطانیه کې د خلکو د روغتیا د پاملرنې انتظام کوې . ستاسو هم هغسې اختیار لرې کوم چې یو برتانوې کس ته ورکړلې شوې دې چې دا سروسز په کار راولې . د این ایچ ایس په واسطه ستاسو لاندینې آسانتیاو ته رسایی شتې .

- یو ډاکټر (کوم چې ستاسو د جی پی په نوم یادیږې) ، د هغه سره تاسو د خپلې طبې مسلې په اړه مشوره کولې شې . ستاسو او ستاسو د جی پی ټولې خبرې اترې پټې ساتلې شې .
- د هغه داروګانو نسخه کوم چې تاسو ضرورت لرې – ستاسو ډاکټر به تاسو له یوه نسخه (د کاغذیوه خاصه ټوټه) درکړې ، کوم چې به تاسو د داروګانو دوکان ته ویسې چې هغه داروګان تر لاسه کړې د کوم چې تاسو ضرورت لرې . تاسو به د دې داروګانو پیسې نه ورکوې .

- یوه تکړه نرسه د معمولي طبي حالتونو / مشورې لپاره ، په کوم کې چې د حمل او جنسي روغتیاوې هم شاملې دې .
- کونسلنګ / د اعصابي ناروغتیاوو سروسز- یو تکړه کس به موجود وې چې دهغه سره تاسو د خپل هغه ذهني ټکان ،کوم چې ستاسو په خپل دولت کې تاسو ته وو، په اړه او یا څه د نورو ستونزو په باره کې مشوره کولی شي .
- د غاښونو ډاکټر
- د سترګو ډاکټر- د سترګو د مفت ټسټونو او عینکو له پاره .
- شفاخاني ، ایمرجنسي او د ایکسیډنټو آسانتیاوې پکې شاملې دې .

دې سروسز ته د رسایی د پاره به ستاسو خاص کارګر یا فوسټر کئیرر ستاسو سره مرسته کوې . که چیرې تاسو ته د طبي مشورې کولو د پاره د ترجمان ضرورت وې نو ستاسو خاص کارګر به متعلقه کسانو ته اووایی چې ستاسو د پاره د دې انتظام اوکړې .

## تعلیم

تاسو (د خپل عمر سره سم) تر ۱۹ کالو پورې په ښوونځی یا پوهنځی کې د مفت زده کړې مستحق یې . که چیرې تاسو له یی د مهاجر په حیث د اوسیدو اجازه درکړې وې نو دا عمر تر ۲۱ کالو پورې او یا د دې نه زیات تر د پوهنتون د زده کړې پورې کیداې شي . (څه فیسونو به وې) .

تاسو به په خپل ځایی ښوونځی یا پوهنځی کې زد کړه کوي . تاسو د هغې زده کړې حق لري کوم چې ستا سو د عمر نور ماشومان لرې . ستاسو د دولتي زده کړې او د بېرطاني د زده



د کورنیو د یوځاي کولو برخه،
Family Reunion Section,
9 Grosvenor Crescent,
London.
SW1X 7EJ.
تیلفون:5454 7235 020

کړې په سستم کې به څه فرقونه وې . په دې کې څه فرقونه لاندې څرګندیږې .

## تعلیم

تاسو (د خپل عمر سره سم) تر ۱۹ کالو پورې په ښوونځی یا پوهنځی کې د مفت زده کړې مستحق یي . که چیرې تاسو له یی د مهاجر په حیث د اوسیدو اجازه درکړې وې نو دا عمر تر ۲۱ کالو پورې او یا د دې نه زیات تر د پوهنتون د زده کړې پورې کیداې شې . (څه فیسونو به وې) .

تاسو به په خپل ځایی ښوونځی یا پوهنځی کې زد کړه کوي . تاسو د هغې زده کړې حق لري کوم چې ستا سو د عمر نور ماشومان لرې . ستاسو د دولتې زده کړې او د برطانې د زده کړې په سستم کې به څه فرقونه وې . په دې کې څه فرقونه لاندې څرګندیږې .

### ښوونځی

- په برطانیه کې زده کړه د هر هغه چا د پاره لازمې ده چې عمر یې ۵ کالونه تر ۱۶ کالو پورې وې .
- د ۱۶ کالو نه ورستو تاسو په خپله خوښه خپله زد کړه په ۵ فارم یا پوهنځی کې جارې ساتلې شې خو که چیرې تاسو غواړې نو تاسو ښوونځې پریخودې شې .
- د ۵ کالو نه تر ۱۶ کالو پورې ښوونځی ته ابتداېي / پرایمرې ښوونځي وايي . کله نه کله د ۵ نه تر ۷ کلنه ماشومانو لپاره بیل ښوونځي وې چې هغې ته انفینټ یعني د ماشومانو ښوونځي ویيلي شې او د ۷ نه تر ۱۱ کلنه ماشومانو لپاره بیل ښوونځي وې چې هغې ته جونیر/ د وړو ماشومانو ښوونځي ویيلي شې .
- د ۱۱ نه تر ۱۶ کلنه ماشومانو لپاره بیل ښوونځی وې چې هغې ته سیکنډرې ښوونځي ویيلي شې . په څه سیکنډرې



لپاره د یوځاي کیدو موقع ورکول کیږي. ستاسو ساتونکي او یا کي-ورکر به وکولاي شي چي تاسو ته د نږدي مرکز په هکله معلومات درکړي.

## په خپل ملک کي د ملګرو او کورني سره تماس نیول

تاسو کولاي شي چي د پیسو او یا کارتونو په ذریعه له عامه تیلفون څخه استفاده وکړي. که د عامه تیلیفون له لاري د ملک نه باهر تیلفون کوي نو دا کار به ډیرو زیاتو میده پیسو ته ضرورت ولري. بهتره دا ده چي د تیلفون کارت څخه استفاده وکړی. دا کارتونه په اکثره دوکانونو کي پلورل کیږي، ددي دوکانونو په شیشه باندي لیکل شوي چي دوي کارتونه پلورلي.
تاسو کولاي شی چي له عامه تیلفون، انترنیت کیفي، او عامه کتابتون څخه اي میل ولیږی.
I

**د کورني د هغو غړو پیدا کول له کومو څخه چي تاسو بیل شوي یاست.**

که چیري تاسو له کورنۍ سره تماس نلري او غواړی چي د خپلي کورني سره تماس پیدا کړي نو د ریډ کراس په نامه یوه اتحادیه ستاسو مرسته کولاي شي. ریډ کراس ورک شوي اشخاص پیدا کوي. همداسي ریډ کراس کولاي شي چي هغو کسانوته پیغامونه ورسوي چي په بندي خانو او یا کمپونو کي ژوند کوي. تاسو کولاي شي چي له دوی سره په لاندي ډول رابطه وکړی:

د برطانیانوي ریډ کراس ټولنه،
British Red Cross Society,
د نړیوالي ښیګڼي ریاست،
International Welfare Department,

ښوونځو کې (شپږم فارم) هم وې او دغې مطلب دا دې چې په دې کې د ۱۶ نه تر ۱۸ کلنه ماشومان سبق وايی .

- ډېر ښوونځی د هلکانو او نجلو لپاره وې خو څه د هلکانو او نجلو لپاره بيل وې . (زياتره سيکنډرې ښوونځی)
- څه سکولونه د يو خاص مذهب سره تعلق لرې ، لکه کيتهولک ښوونځی ، چرچ آف انګلينډ سکولز.
- د زياتره ښوونځو يوشان کالي وې .
- تاسو به د خپل عمر مطابق د کال په ګروپ کې ځاې کړاې شي ، د خپل زړې زد کړې تجربې مطابق نه ، او نه په دې بنياد چې آيا تاسو په يو خاص مضمون کې څومره ښه يی او يا تاسو څومره ښه انګريزی وايی .
- هر کال به تاسو د راتلونکی کال ګروپ ته پرمختګ کوې ، د دې پروا نه بغير چې آيا تاسو په علمې توګه څومره پرمختګ کړاې دې . تاسو په ببرطانيه کې (کال فيل کولې) نه شې. په ببرطانيه کې (کال بيا کول) نشتې .
- ټول ښوونځی يو شان مضمونونه ښايی . دې ته ملیِ تعليمی نصاب وايی .
- په ۱۱ کلاس کې د جی . سی . ايس . ای (جنرل سرټيفيکيټ آف سيکنډرې ايجوکيشن) امتحان کيږې ، کله چې زيات زد کونکې ۱۶ کلنه وې . زياتره زد کونکې تقريباً د ۱۰ مضمونو پورې اخلې . دا زده کړه به لازمې وې ځکه چې دا به تاسو د دې وړ کړې چې په پوهنځی کې داخله واخلې او يا په ببرطانيه کې کار ترلاسه کړې . کله چې تاسو ښوونځی پريږدې.
- داسې څه ډپلومې هُم شته ګوم چې د جې سې ايس اېز متبادل زده کړه ده. دا مسلکې زده کړه ده.

د همپشير په ښوونځو کې په خواشينې سره کله نا کله د ملنډو او نسلي تعصب پيښې کيږې .خو ولې بيا هم دا د منلو وړ سلوک نه دې او ډېر په سخته توګه اخيستلې کيږې .ملنډې او نژاد پرستی د ډيری خواشينې سبب جوړيږې . که چيرې ستاسو سره داسې پيښه وشې نو ژر تر ژره



په برطانيه د ١٦ کلن يا له هغه نه زيات عمر خلکو لپاره د لږ تر لږه معاش يو حد ټاکل شوي دي. هغه څوک چې تاسوته کار درکوي بايد له ټاکل شوي حد نه کم معاش درنکړي. اوس مهال ١٦ کلن او ١٧ کلن ته په ساعت 3.53 پونډه ورکول کيږي ( چې د 2009 کال د اکتوبر1 نيټې نه به دا پيسي تر 3.57 پوري لوړي شي). له ١٨ نه تر ٢١ کلن پوري ته دا حد 4.77 پونډه په ساعت باندي (چې د 2009 کال د اکتوبر1 نيټې نه به دا پيسي تر4.83 پوري لوړي شي) ټاکل شوي دي.

## د سپورت او ساتيری آسانتياوي

په همپشاير کي داسي ډير ځايونه شته چې هلته تاسو په سپورتي او د ساتيري په فعاليتونو کي ونډه اخستيلي شي. اکثره لوی ښارونه د ساتيری داسي ځايونه لري چې تاسو هلته خپل اضافي وخت تيرولي شي. دا مرکزونه در ورځي لخوا، په ويکند (د هفتي آخر) کي او ماښام لخوا خلاص وي.

په دي مرکزونو کي لامبو، فوتبال، تينس، بدمنټن، سقواش، جودو، يوګا او داسي نور سپورتونه شته دي. بعضي مرکزونه د بادي بلډنګ سامان هم لري. که غواړي چې د نزدي مرکز آدرس پيدا کړي نو له خپل ساتونکي او له کي-ورکر (عمده کارکونکي) نه پوښتنه وکړی. د محلي تيلفونونو کتابچي او يلو-پيج yellow pages هم د دي مرکزونو په هکله معلومات لري. دا معلومات د 'sports and recreation centres' او يا 'leisure centres' تر عنوان لاندي پيدا کولاي شي.
په دي سپورتونو کي د برخه اخستلو په بدل کي به يو څه فيس هم ورکوي.
د همپشاير اکثره منطقي د ځوانانو لپاره مرکزونه لري چي تاسو په خپل فارغ وخت پکي برخه اخستلي شي. دا مرکزونه عموماً د هفتي په خاصو ورځو کي د ماښام په وخت خلاص وي. دا مرکزونه د ځوان کارکونکي لخوا جوړ شوي چي پکي د ساتيري فعاليتونه او د ځوانانو

ددي پخلي وشي چي ستاسو کار د کار موده او وخت ستاسو په درس باندي اثر ونکړي.

**۱۳ ـ ۱٤ کلن**

- د درسونو په وخت کي تاسو کولاي شي په هفته کي ۱۲ ساعته کار وکړي او په رخصتيو کي کولاي شي چي په هفته کي تر ۲۵ ساعته کار وکړي.
- تاسو بايد د سهار له ۷ بجو نه مخکي او د ماښام د ۷ بجو نه پس کار ونکړي.
- په کومو ورځو کي چي مکتب ته ځي بايد په ورځ کي له ۲ ساعتونو نه زيات کار ونکړي.
- د شنبي په ورځ کولاي شی چي تر ٥ ساعتو کار وکړی.
- د يکشنبي په ورځ بايد له ۲ ساعتو زيات کار ونکړی.
- په رخصتيو کي تاسو کولاي شي چي په ورځ کي تر ٥ ساعتو کار وکړي خو په هفتي کي بايد مجموعاً له ۲٥ ساعتو زيات کار ونکړی.

**۱٥ـ۱٦ کلن**

- د درسونو په وخت کي تاسو کولاي شي چي په هفته کي تر ۱۲ او په رخصتيو کي په هفته کي تر ۳٥ ساعتو کار وکړی.
- په هغو ورځو کي چي مکتب ته ځي، په ورځ کي تر ۲ ساعتو کار کولاي شي مگر مکتب له تلو نه مخکي بايد له يو ساعت نه زيات کار ونکړی.
- د شنبي په ورځ کولاي شي چي تر ۸ ساعتو کار وکړی.
- د يکشنبي په ورځ بايد له ۲ ساعتو نه زيات کار ونکړی.
- په رخصتيو کي تاسو کولاي شي چي په ورځ کي تر ۸ ساعتو کار وکړي خو مجموعاً په هفته کي بايد له ۳٥ ساعتو زيات کار ونکړی.



د دي اطلاع ښونکی ته ورکړي . که چيري بيا هم دا مسله ختمه نه شوه نو دا يقيني کړي چي تاسو نورو ښوونکو ته د دي اطلاع ورکړي چي تراوسه پوري دا مسله ختمه نه شوه . داسي څه نور تنظيمونه هم شته دي چي هغو سره تاسو د ملنډو او نژادپرستي په اړه خبري کولي شي .

- ماشومان : په آزاده توگه هيلپ لاين ته ټليفون کولي شي ، کوم چي هره ورځ د ورځی ۲۴ ساعتونه خلاص وي . تاسو د يو تربيه شوي مشاور سره د هر هغه څه په باره کي چي تاسو غواړي ، هر وخت خبري کولي شي
  ټليفون: 08001111
  ويب سايټ : [www.childline.org.uk](http://www.childline.org.uk)
- کدسکيپ : دا د ټليفون يو هيلپ لاين دي کوم چي د ملنډو د ستونزو په اړه مشوري ورکوي. (تاسو به د دي ټليفون کولو د پاره پيسي ورکوي)
  ټليفون : 02077303300

دد برطانيي په ښوونځو کي د عبادت عمل هره ورځ کيږي ، کوم چي د (ډله ايز عبادت ) په توگه ياديږي . او دا په فطري ډول (په پراخه مسيحي وي) . د عبادت دا عمل به د (اسمبلي) د وخت برخه وي ، په کوم کي چي به يا خو ټول سکول او يا د سکول څه برخه ، لکه د يو کلاس گروپ شرکت کوي . دا د کلاس ښوونکی په کلاس کي په (پرايمري سکول) او يا روزونکی په (سيکنډري سکول) کي هم کولي شي . که چيري تاسو نه خوښه ويي چي په دي ورځنی عبادت کي برخه واخلي ، شايد په دي وجه چي تاسو د بل مذهب سره تعلق لري نو ستاسو سره دا حق شته دي چي په دي کي شريک نه شي . که چيري تاسو په دي ډله ايز عبادت کي شريکيدل نه غواړي نو تاسو له پکار دي چي خپل د کلاس ښوونکی ته يا فارم روز ونکی ته اووايي .

که چیرې تاسو د خپل عبادت د پاره یواځې یا د نورو هغه زده کونکو سره کوم چې ستاسو د مذهب سره تعلق لرې ، یو بیل ځاې خوښه ویې ، نو ستاسو سکول به تاسو ته یو مناسب ځاې درکړې . دا د ټول کال د پاره او یا د یو خاص وخت د پاره کیداې شې . د مثال په توګه روژه .

ستاسو خاص کارګر به د دې وړ وی چې ستاسو په مقامي ځاېونو کې تاسو ته د عبادت ځاې په نښه کړي که چیرې تاسو غواړې چې د سکول د وخت نه بهر د خپل عبادت ځایونو ته لاړ شې.

## د مسلک مشوره

دا سې یو تنظیم شته دې کوم ته چې کنیکسنز ویېلې کیږې او هغه د مسلک او د هغه نورو ستونزو په اړه په مشورو ورکولو کې مختص دې کوم چې د ۱۳ نه تر د ۱۹ کالو ماشومانو (او یا د ۲۵ کالو پورې په معذوره خلکو) باندې اثر کوې . دوې ځانګړې مشاور په کار کوې کوم چې په هر هغه مسله باندې مشوره ورکولې شي چې تاسو ته پیښه د . تاسو دوې په ټول همپشیر کې په بنوونځو ، پوهنځو او معلوماتي سنټرو کې موندلې شې . ددوې ویب سایټ به تاسو ته دا معلومات درکړې چې تاسو ته د دوې نیږدې دفترکوم ځاې دې . د دوې په ویب سایټ کې یوه معلوماتي پاڼه په لاندینې ژبو کې هم شتې . بنګالی ، چینی ، خردیشی ، نیپالی ، پولینډی ، پنجابی ، سومالی او اردو.

www.hampshireconnexions.co.uk
https://owa.hants.gov.uk/exchweb/bin/redir.asp?URL=http://www.hampshireconnexions.co.uk



تاسو ته پوهنتون او یا نورو کورسونو ته د داخلیدو او هغوي د شرایطو په هکله معلومات درکړي. همداسي دوی به وکولاي شي چې ستاسو مرسته وکړي چې د هغو پوهنتونو په هکله معلومات را ټول کړي چې ستاسو د خوښي کورس پکې موجود وي ترڅو تاسو وکولاي شي چې د عریضي لپاره د پوهنتونو انتخاب وکړي.

که چیري تاسو د رفیوجي او یا ELR حیثیت ولري نو ستاسو څخه به د برطانوي زده کونکي په شان فیس واخستل شي. که چیري تاسو مخکې د د اجتماعي پاملرني ریاست Social Care Departement لخوا 'ساتل شوي' یاست نو ستاسو اقتصادي ملاتړ به د هغوي لخوا ترسره کیږي.

## په برطانیه کې کارکول

که چیري تاسو داسي اسایلم سیکر یاست چې د خپل کیس په هکله د فیصلي انتظار کوی نو تاسو کولاي شي چې د کیس کولو نه ٦ میاشت پس په کار پیل وکړي، مګر تاسو باید لږ تر لږ د ۱۳ کالو عمر اود کار اجازه ولري. د کار د اجازي لپاره باید هوم آفس ته شخصاً عریضه وکړی.

که چیري تاسو د رفیوجي او یا ELR حیثیت او له ۱۳ کالو نه زیات عمر لري، نو تاسو کولاي شي چې بغیر له کومي اجازي په برطانیه کې کار وکړي.

که چیري تاسو ۱٦ کلن اویا ورکوټي یاست او په حین حال په مکتب درس وایی، نو په تاسو باندي بعضي قوانین لاګو کیږي چې ستاسو د کار په مودي او وخت پوري به اړه ولري. دا قوانین ددي لپاره دي چې

## د تعليم  د ادامي کالجونه

د **تعليم د ادامي کالجونه** مختلف ډول کورسونه لري. بعضي اکادمي کورسونه دي چي د G.C.S.E او يا A ليول شهادتنامې ورکوي، چي بيا د هغو په ذريعه د پوهنتون داخله تر لاسه کيداي شي. بعضي نور کورسونه يي ويکيشنل (هنري) دي (په دي کورسونو کي د خاصو دندو د تر سره کولو مهارتونه لکه د موټر جوړول او يا سلماني تدريس کيږي) د مثال په ډول N.V.Q (نيشنل ويکيشنل کواليفيکيشن). داسي کورسونه هم شته چي ستاسو سره د انګليسي په زده کړه کي مرسته وکړي، دي کورسونو ته E.S.O.L (انګليسي د نورو ژبو د وينکو لپاره). تاسو د خپلي خوښي په هر کورس کي حصه اخستلي شی.

کورسونه کيدای شی چي فول تايم (ټوله ورځ) او يا پارټ ټايم (نيمائي ورځ) وي. ممکن ده چي تاسو پارټ ټايم (نيمائي ورځ) کار او په حين حال تعليم هم وکړی. ه چيري تاسو رفيوجي (پناه اخستونکي) او يا ELR درکړل شوي وي نو ستاسو لپاره د شپږمي فورمي او(د تعليم د ادامي) اکثره کورسونه به وړيا (مفت) وي. که چيري تاسو يو داسي اسايلم سيکر (پناه غوښتونکي) چي د هوم آفس ( د کورنيو چارو وزارت) د فيصلي په انتظار کي ياست او په حين حال کي مو عمر د ١٦ نه تر ١٨ کالو په منځ کي وي نو دا کورسونه به ستاسو لپاره وړيا (مفت) وي.  که چيري ستاسو عمر زيات وي نو کيداي شي چي د تعليم په بدل کي فيس ورکړی.
.

داسي مسلکي اداري شته چي تاسو ته د تعليم د ادامي په برخه کي مشوره درکړي:

- د پناه اخستونکو د تعليم او ټريننګ مشورتي خدمات (RETAS)
  د نړۍ وال پوهنتون خدمات (UK)،



Refugees Education and Training Advisory
Service (RETAS)
World University Service (UK),
14 Dufferin Street,
London.
EC1Y 8PD.
تيلفون: 020 7426 5800
مشورتي لين: 020 7426 5801 ( س شنبه او پنج شنبه، 5 – 2.30 بجی پس له ماسپښين)

RETAS د ١٨ نه زيات عمر پناه رفيوجيو او اسايلم سيکرو ته مشوره او مرسته وړاندي کوي.

- د رفيوجي کونسل، د ټريننګ او استخدام برخه،
  240 250 Ferndale Road,
  London.
  SW9 8BB.
  تيليفون: 020 7346 6700
  په خپله حاضريدل: دوشنبي تر جمعي، د سهار له 10تر12 بجو
  مشورتي لين: 020 7346 6760 ( له 10 تر 1 بجي، له 2 بجو تر4، له دوشنبي نه تر جمعي پوري).

## پوهنتون

د ١٨ کالو عمر ته  په رسيدو سره تاسو کولاي شي چي پوهنتون او يا لوړو تحصيلاتو عريضه وکړی. د زيات نه زيات عمر حد نشته. تاسو بايد د داخلي شرايط پوره کړی. هر پوهنتون او کورس خپل ځانګړي شرايط لري. شپږمه فورمه او د تعليم د ادامي کالج به وکولاي شي چي